# سړی په رنګ نه سړی کیږي

شپږمه شعري مجموعه

دانش خپرندویه ټولنه



## عمر دراز مروت

پښتو ادبي ټولنه شاه طوره تختي خېل لکي مروت

Scanned by CamScanner

شپږمه شعري مجموعه

# سرې په رنګ نه سرې کیږي

شاعر:
عمر دراز مروت

د چاپ کال 2017

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# سړی په رنګ نه سړی کیږي


شاعر: عمر دراز مروت

خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه

چاپکال: ۱۳۹۶ل/ ۲۰۱۷ز

کمپوز: حبیب الله اماني

پروف ریډینګ: ذبیح شفق

سرپاڼه: زاهد امین

د خپرونو لړ: ۲۵۱۷

چاپشمېر: ۱۰۰۰

چاپخی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

دانش خپرندویه ټولنه

سالنګ واټ، انحصارات، د پښتوني ملي سینما څنګ ته، دانش کتابپلورنځی

+93 (0) 77 11 44 317 - 0799 20 92 72

danish2k2000@yahoo.com - spinsahaar@gmail.com



ددې کتاب د چاپي او آنلاین خپرولو ټولې رښتې له خپرندوی سره خوندي دي

Scanned by CamScanner

# فهرست


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | ترون | ۱ |
| ۲. | سریزه | ۲ |
| ۳. | مالي مرسته | ۴ |
| ٤. | وضاحت | ۵ |
| ۵. | مننه | ۸ |
| ٦. | خصوصي مننه | ۹ |
| ۷. | حمد | ۱۰ |
| ۸. | نور به دتا خلاف قدم په څمکه نه اخلم | ۱۰ |
| ۹. | پاتې به تنها شې قدردان له منځه وباسه | ۱۱ |
| ۱۰. | هر څو که د حالاتو گوزارونه وو د کاڼو | ۱۳ |
| ۱۱. | په خوله باندې جیو جار په زړهٔ اورونه وو د خلکو | ۱۵ |
| ۱۲. | د سپینو نرخ په بر وختونه اوسېدل ارزان شول | ۱۷ |
| ۱۳. | صرف په یوې تشې خندا مې زړهٔ ورکړی دی | ۱۸ |
| ١٤. | دا یاري نه کوي یاران هسې اسرې کښې ساتي | ۱۹ |
| ۱۵. | یو شعر | ۲۰ |
| ١٦. | ماسره چې د کومې قیصې وېره ده | ۲۱ |
| ۱۷. | خداېزده که زهٔ دومره له حېوان نه ویرېدلی یم | ۲۳ |
| ۱۸. | ما درته ویلې نه اول گرانه ده | ۲۵ |
| ۱۹. | قطعه | ۲۷ |
| ۲۰. | قطعه | ۲۷ |
| ۲۱. | قطعه | ۲۸ |
| ۲۲. | قطعه | ۲۸ |
| ۲۳. | خدایه دستا له لوی قدرت نه انکار نه شم کوی | ۲۹ |


Scanned by CamScanner

۲٤. څه مې دې خپل ساده زړګي راسره داسې وکړل ........................ ۳۱
۲۵. يو شعر ........................................ ۳۲
۲٦. دا خلک هېڅکله رښتيا نه وايي ........................................ ۳۳
۲۷. قطعه ........................................ ۳۴
۲۸. ستا په سر که ورانه ده، ودانه ده ........................................ ۳۵
۲۹. قطعه ........................................ ۳٦
۳۰. يو شعر ........................................ ۳٦
۳۱. چې خپل خود دار سرکش ضمير سره مې روغه وکړه ........................ ۳۷
۳۲. حسن که د کلي که د ښار دی اوس ........................................ ۳۹
۳۳. دستا دپاره ستا هر حکم ته تيار وم يو وخت ........................................ ۴۱
۳۴. درې شعرونه ........................................ ۴۳
۳۵. د تورو سترګو چې د تورې ليلا قدر کوم ........................................ ۴۴
۳٦. نور په خدای که د هېڅ نه دې ويرېدم ........................................ ۴٦
۳۷. زړهٔ مې چې ساتې داسې يو ښکلی مې مونده نه که ........................ ۴۸
۳۸. درې شعرونه ........................................ ۴۹
۳۹. حسن نه د اور غوندې لوګی او نه لمبه کوي ........................................ ۵۰
٤۰. لمبې وې او لمبو پسې لمبې وې خونړۍ ........................................ ۵۲
٤۱. زما د عقل چې شو توان کمزوری ........................................ ۵۳
٤۲. که پسې مرم خو جانان عام نه غواړم ........................................ ۵۵
٤۳. بغېر له مينې بل روزګار نه لرم ........................................ ۵۷
٤٤. دا نه چې ما سره جفا شوې ده ........................................ ۵۸
٤۵. په ظاهري لباس بيخي پېغمبران دي هغه ........................................ ٦۰
٤٦. پخوا زما او ستا ترمنځ چې نفرتونه، نه وو ........................................ ٦۲
٤۷. نشته پرواه سرهٔ زر ازران دې خرڅ شي ........................................ ٦۴
٤۸. دلته چې تور هلته د سرهٔ سره مې روغه نه ده ........................................ ٦۵
٤۹. يو شعر ........................................ ٦٦

Scanned by CamScanner

۵۰. نخښې کې یو ګوته یو رومال راپاتې شوی دی ........................ ۶۷
۵۱. نېمګړی غزل ........................................................ ۶۹
۵۲. قطعه ............................................................... ۷۰
۵۳. که زړهٔ مې له غم تنګ دی لا دغسې راپسې دی ................... ۷۱
۵۴. هغه چې زور لري او زر له مینې کرکه کوي .......................... ۷۲
۵۵. جېب کې چې درهم او دینار راسره نه و ............................ ۷۴
۵۶. سپېڅلې مینه او سپېڅلې بنده ګي پکار ده ............................ ۷۶
۵۷. څومره نامدار وم څومره زور مې په لاسونو کښې و .................... ۷۸
۵۸. یو شعر ............................................................. ۷۹
۵۹. غم دې پرېشان کړم دومره ډېر چې پرېشان لرې وینم .................. ۸۰
۶۰. درې شعرونه ......................................................... ۸۱
۶۱. دیدنونه د پې مخو له هر شي دلته ارزان دي .......................... ۸۲
۶۲. دې نه مخکښې داسې ایسار چېرته و ................................. ۸۳
۶۳. درې شعرونه ......................................................... ۸۵
۶۴. ستا یارانه که کمه هم تر سر تر داره نه وه ............................. ۸۶
۶۵. غم دی که بېلتون دی که هجران سره تړلي دي ........................ ۸۷
۶۶. دوه شعرونه .......................................................... ۸۸
۶۷. زهر دې وخوري که مجبور شي اعتبار دې نه خوري ...................... ۸۹
۶۸. درې شعرونه ......................................................... ۹۱
۶۹. نه مو غمخوار، نه مو همدرد او نه مو مل ثابت شو ...................... ۹۲
۷۰. دوه شعرونه .......................................................... ۹۳
۷۱. درې مصرئیزه نظم ................................................... ۹۳
۷۲. د کور له وره نه چې په جار او په بسمل راوځي ......................... ۹۴
۷۳. اوښکې وې سلګۍ او شوګیرې راباندې تیرې شوې ....................... ۹۵
۷۴. چې ستا جسن د ستایلو یو اسباب یم ................................. ۹۶
۷۵. دوه شعرونه .......................................................... ۹۷


Scanned by CamScanner

۷۶. دلته په نوی رنګ کې نوې سزاګانې راځي ........................ ۹۸
۷۷. تا چې لوظونه د راتلو کړل واړه مات د شوندو ........................ ۹۹
۷۸. ژبه او ګفتار لکه اوبه او اور ........................ ۱۰۰
۷۹. بې لارې خلک دي په لاره نه ځي ........................ ۱۰۲
۸۰. په خوله خندا په زړهٔ ویشتلی ګرځم ........................ ۱۰۳
۸۱. چل کوه په زور دا زورور له کوره نه وځي ........................ ۱۰۴
۸۲. تورې او غشي نیزې راوړه او زغرې راوړه ........................ ۱۰۶
۸۳. دوه شعرونه ........................ ۱۰۷
۸٤. ډېره مې سپینه شوه خو زړهٔ د جانان سپین مې نه که ........................ ۱۰۸
۸۵. چم کښې د غرض واړه یاران مې پېژندلي دي ........................ ۱۰۹
۸٦. دوه شعرونه ........................ ۱۱۰
۸۷. درې شعرونه ........................ ۱۱۱
۸۸. اخلاص مند سړي په هر څه کښې اخلاص وي ........................ ۱۱۲
۸۹. خدابزده چې زړهٔ به د هغه داسې و ........................ ۱۱۳
۹۰. په قرار کښېنه لا توده ده مینه ........................ ۱۱۵
۹۱. منم چې تا به وي ډېر خلک په خندي خوړلي ........................ ۱۱۷
۹۲. اوس ایله پوی شوم چې خبرې یې خبرو کښې وې ........................ ۱۱۹
۹۳. ښکلي ایکي یو دی په تول چم کې خو چې عام نه وی ........................ ۱۲۰
۹٤. نظم نما غزل ........................ ۱۲۱
۹۵. قطعه ........................ ۱۲۲
۹٦. سر مې ورتیټ کړ او معافي مې ورنه وغوښتله ........................ ۱۲۳
۹۷. قطعه ........................ ۱۲۴
۹۸. صرف دا نه چې محبت سره دې ظلم وکه ........................ ۱۲۵
۹۹. عمر دراز مروت چاپ کړي کتابونه ........................ ۱۲٦

Scanned by CamScanner

# تــړون

زهٔ د دې کتاب
تړون د خپل ډېر ګران او
خواږه ملګري محمد زاهد
په نوم کوم چې ماسره یې د ژوند هر قسم تودې
سړې ډېرې په ویال تندي زغملي دي او زهٔ ورته
د یارۍ په معیار یو ښهٔ ملګری په دعوې سره وایم
ولې چې په دې ځانځاني وخت کښې د یو بې غرضه ملګري
موندل ډېر مشکل کار دی.

عمر دراز مروت

Scanned by CamScanner

# سريزه

## بس هم دومره

29/1/2017

Scanned by CamScanner

زهٔ نه پوهېږم چې د رحمان بابا دا شعر به مشر وي.

انسانیت څه به دولت نه دې رحمانه!
بُت کهٔ جوړ شي د سرو زرو انسان نه دی

کنه، د پښتو دا ولسي ټپه:

سړی په رنګ نه سړی کیږي
سړی هغه ده چې یې خوي د سړي وینه

Scanned by CamScanner

# مالي مرستيال

زۀ د خپلو ډېرو ګرانو او خوږو ملګرو اول غرونه غرونه مننه کوم او بيا د هر يو له نام سره ذکر کوم.

اول د محمد خان ناصر چې د کويټې صوبې او د ناصر کلي اوسيدونکی دی او بيا د ګلاب خان ګلاب د کورمې ايجنسۍ د اوچت کلي اوسيدونکی دی.

او بل د نيک مرجان چې د افغانستان د خوست صوبې اوسيدونکی دی او دلته په پاکستان کښې د لکي مروت په سرۀ درګه کښې مېشت دی او په موجوده وخت کښې په امارات هالېند کښې اوسېږي.

د هغو درېواړو ملګرو د مالي مرستې چې څومره مننه وکړم نو کمه به وي. ولې چې زما دا کتاب د دوی د مالي مرستو په برکت د چاپ مرحلو نه را تېر شو.

په اخر کښې بيا مننه کوم او کورودانی ورته وايم.

عمر دراز مروت

14/2/2017

Scanned by CamScanner

# وضاحت

**(سړی په رنګ نه سړی کېږي)** دا زما د دې کتاب نوم دی. دغه نوم د یوې مشهورې ټپې د اولنۍ مصرې نه راخیستلی شوی دی. ټپه داده.

سړی په رنګ نه سړی کیږي
سړی هغه دی چې یې خوي د سړي وینه

دا زما شپږم کتاب دی. د دې نه مخکښې زما پینځهٔ کتابونه نور چاپ شوي دي، چې ستاسو له نظره به تېر شوي وي.
اول (ګل بې خاره نه وي)، دویم (د کاڼي کرښه)، دریم (مجمر) څلورم (خیال خواري غواړي)، پینځم (جانانه بخت ته دې حېران یم)، شپږم هم دا کتاب.
کله چې ما اولنی کتاب (ګل بې خاره نه وي) چاپ کوو، نو د خپلې شاعرۍ یوه، دوه کاپي مې ښاغلي سلیم قرار صیب ته حواله کړې، چې په دې کښې د هغه کلام کتابت وکړه، چې هغه د کتاب قابل وي.
ولې چې په هغه وخت کښې د شعر د معیار سره زهٔ دومره بلد نه وم، خو صرف شاعري به مې کوله، نو قرار صیب هغه رنګې وکړل چې کوم کلام د کتاب څه نه څه د چاپ کولو قابل و د هغه کتابت یې وکړو او "د ګل بې خاره نه وي" کتاب په نوم دوه ځله چاپ شو.

د هغې نه پس بيا "د کاڼي کربښه" په نوم کتاب ما بيا سليم قرار ته حواله کړو، چې په دې کتاب کښې هغه رنګې وکړه او زما د دې کاپيو نه داسې کلام را واخله چې هغه د چاپ کولو قابل وي.

ولې چې زما په دې کتاب کښې د لومړي شاعرۍ غټه حصه وه. دغه کاڼي کربښې په نوم کتاب دوه ځله چاپ شو، چې د څلورو، پينځو کالونو راهسې دا دواړه کتابونه "د کاڼي کربښه" او "ګل بې خاره نه وي" په مارکيټ کښې ناياب دي.

د کاڼي کربښې کتاب نه پس ما چې کومه شاعري وکړه هغه مې ټوله د مجمر نومي کتاب کښې چاپ کړه. نه مې په دې کتاب په غزلو کښې انتخاب وکړ او نه مې په شعرونو کښې وکړ. البته په دې غزلو کښې مانه يو غزل په غلطي سره پاتې شوی و.

ولې چې د دې کتاب کمپوزنګ يونس خان مرحوم کړی و او هغهٔ نه په څه غلطي سره پاتې شوی و، چې هغه غزل مې بيا په "خيال خواري غواړي" نومي کتاب کښې چاپ کړ. د مجمر کتاب نه وروسته چې ما کومه شاعري وکړه، هغه مې په دغه رنګې په "خيال خواري غواړي" کتاب کښې چاپ کړه، چې نه مې په دې غزلو کښې انتخاب وکړ او نه مې په دې شعرونو کښې انتخاب وکړ.

په "خيال خواري غواړي" نومي کتاب کښې مې دا يو شعر د خپلې خبرې په تائيد کښې په اخري صفحو موجود دی، چې دا شعر داسې ده:

د خپله وسه مې خپل خيال پورې خواري کړې ده
ما د مجمر نه پس بس دغه شاعري کړې ده

د خيال خواري غواړي کتاب نه وروسته چې ما کومه شاعري وکړه هغه مې «جانانه بخت ته د حيران يم» په کتاب کښې په دغه رنګې چاپ کړه.

په دې کتاب کښې نه ما په غزلو کښې انتخاب وکړ او نه په شعرونو کښې. ما په دې څلورو کتابونو کښې هېڅکله دا ونه کړل چې زۀ دې په غزل کښې لس شعرونه وليکم. په هغۀ کښې د پينځۀ انتخاب کړ او پنيځۀ د ناچاپ او يا نظر انداز کړم. يا په لسو غزلو کښې پينځه انتخاب کړم او پينځه دې ناچاپ کړم. دا ضروري نه ده چې ماسره دې په دې کښې هر شاعر ليکوال اتفاق وکړي، خو ما تر خپله وسه دا کار د خپلو شعرونو يا غزلو سره ونه کړ. اوس دا کتاب «سړي په رنګ نه سړي کيږي» په دې کښې مې په هغه رنګ وکړل، چې د دې نه مخکښې مې د دريو کتابونو د غزلو او يا د شعرونو سره کړي دي.

اوس په آخر کښې زۀ د خپلې ليکنې کمې پيشي بخښنه غواړم او د هغو ټولو قدردانو او لوستونکو غږونه، غږونه مننه کوم، چې زما دې ماتې ګوډې شاعرۍ ته يې ډېر په درانه نظر کتلي دي.

په آخر کښې دا زما يو شعر:

داسې له هر سړي د زړۀ ماتول نه دي پکار
ګيله پکار ده خامخا خو له سړي پکار ده

عمر دراز مروت
17/12/2016

Scanned by CamScanner

# مننه

په کتاب کښې د هغو کسانو د مننې حق خامخا د کتاب په مصنف او يا مولف جوړيږي کومو کسانو چې د کتاب مصنف يا مولف سره څه نه څه مالي يا قلمي مرسته کړي وي.

او زه هم تر ډېره حده پورې د دې رواياتو قاېل يم او د هغو کسانو د زړه له اخلاصه مننه کوم. کومو کسانو چې ماسره په دې کتاب کښې مالي او قلمي مرسته په ويال تندي کړې ده.

اول: د ډېر خواږه او ګران ملګري او ښه شاعر د دلسوز مروت صيب چې څومره مننه وکړم نو کمه به وي، ولې چې زما د دې کتاب شعرونه يې د يو کاپۍ نه بلې ته او بلې نه، بلې ته څو څو ځله بدل کړي او را بدل کړي دي. او ډېر په اخلاص سره يې ماسره دا قلمي مرسته په ډېر ويال تندي کړې ده.

تر ډېره حده د دلسوز مروت د دې اخلاص او خلوص مننه کوم او زما په خيال چې څومره مننه يې وکړم، نو کمه به وي.

ولې چې په دې ځانځاني وخت کښې دومره وزګار څوک نشته، چې داسې بې غرضه کار په داسې ويال تندي وکړي. د هغې نه پس زه د يو ګران او ډېر خواږه ملګري قسمت علي رضا صيب ډېره ډېره مننه کوم، چې زما د شاعري ډېره حصه يې په حافظه کښې محفوظه ساتلې ده.

Scanned by CamScanner

او د محمد زاهد ، زیر محمد سیلمان خېل، زاید امین او محمد رفیق اسیر ، عظمت الله ادم زيئ د هغو تولو یارانو دوستانو چې زۀ اوس د هغو بېل بېل نومونه نه شم اخیستی، غرونه غرونه مننه په ویال تندي کوم.

عمر دراز مروت
19/2/2016

# خصوصي مننه

زۀ د خپل ډېر ګران او خوارۀ ملګري اسدجان دانش یو نړی مننه کوم ، چې زما د کتابونو چاپ کولو کښې او زما د شعرونو په خپرولو کښې چې څومره لاس د اسدجان دانش دی، دومره شاید چې زما په خپله هم نه وي.
ددې نه پس چې د یو ډېر خوارۀ ملګري راشد ختك صېب څومره مننه وکړم نو کمه به وي، ولې چې زما د هر کتاب پروف يې په ډېر اخلاص کتلي او پر ډېرو مصروفیاتو سربېره يې ماته انکار نه دی کړی.
د دواړو ملګرو یوځل بیا غرونه غرونه مننه کوم.

عمردراز مروت

# حمد

یو احسان دې، دا دی چې غریب دې پیدا کړی یم
بل احسان دې ، دادی چې ادیب دې پیدا کړی یم

ستا د بلا ډېرو احسانونو، لاندې، لاندې یم
ځان ته یقیناً چې ډېر قریب دې پیدا کړی یم

نور به د تا خلاف قدم په ځمکه نه اخلم
د نن نه پس مې د خپل زړهٔ سره وعده کړې ده

هسې نه زهٔ دې ګناهګار د بل په شانې نه شم
له دغې وېرې مې سجدې پسې سجده کړې ده

Scanned by CamScanner

پاتې به تنها شې قدر دان له منځه مه باسه
ځان له منځه یوسه خو یاران له منځه مه باسه

ستا او د رقیب د رقابت جنګ به بې خونده شي
دغه تاوان خیر دی خو جانان له منځه مه باسه

څوك مې بې له سر قیمت د سر ادا كوی نه شي
داسې مې په نه بیعه ارزان له منځه مه باسه

تا او زما منځ كښې د اقرار او د انكار كرښه
زور دې پخپل ځای خو خپل زبان له منځه مه باسه

كله كله بدو كښې دا بد خلك په كاز راځي
ته هم دا بې ذوقه غمازان له منځه مه باسه

ښکلو هر عمل له غرض خلاص نه وي دا یاد لره
ته هم که هوښیار یې جار قربان له منځه مه باسه

٦ ما که در کتلي دی خو تا هم راخندلي دي
زهٔ به ملامت یمه خو ځان له منځه مه باسه

٧ ځان عمر دراز مروته خاورو سره خاورې که
یار د لیونی مینې احسان له منځه مه باسه

5/6/2016

Scanned by CamScanner

هر څو که د حالاتو ګوزارونه وو د کانو!!!
خو بیا مو په سینو کښې غتې، غتې زوړونه وود کانو

چې سر مو په دې خپل بل شوي اور نه خلاصېدلو
رښتیا چې په اُوږه زمونږ سرونه وو د کانو

تېرې وربانـدې پڅې هر ظالم کړې د خپل ظلم
همت ته یې سلام کړم هډونه وو د کانو

د دې باوجود بیا هم ترې محفوظه پاتې نه شوو
له ځان مو ګېر چاپېر که دېوالونه وو د کانو

زخمونه یې لا اوس لرم په زړهٔ باندې وران نه دي
د یار نازکو لاسو کښې ګلونه وو د کانو

Scanned by CamScanner

سوکه به د څولو غونډې اکثر نه ماتېدل چې
پښوا به د يارانو کلک لوظونه وو د کانړو

لا بيا مو دا، پې مخې له خپل سر نه بنکته نه کړل
په سر مو را نازل که بارانونه وو د کانړو

لا، اوس عمر دراز مروته هېر راڅخه نه دي
د يار هغه رټلي جوابونه وو د کانړو

په خوله باندې جیو جار په زړهٔ اورونه وو دې خلکو
تك تور د تورې شپې غوندې نیتونه وو دې خلکو

زما او ستا قیصه چې یو کېدای نه شوه تر ډېره
زما او ستا په منځ کښې ډېر لاسونه وو دې خلکو

و ماته د نفرت د کانړو بوي ترېنه راتللو
هر څوک په لاسونو کښې ګلونه وو دې خلکو!!

دا، یوه ګټه یې وه چې په ښاپست باندې غنیان وو
کړلي یې هر څوک سرهٔ اُورونه وو دې خلکو!!

په چم کښې یقیناً د غنم رنګو خلکو راج وو
ګټلي یې زما غوندې ډېر زړونه وو دې خلکو

کتـــل يـــې د قـــاتلو تـــورو ســـترګو قـــاتلان وو
په سيمې کښې يې ډېر کړي قتلونه وو دې خلکو

ډېر زوروونه يې ازار کړل خو ازار چا پسې نه وو
حېران يم چې دا څنګه قسمتونه وو دې خلکو

ساه لندې لکه زۀ عمر دراز مروتـه نـه وو
د بـل د خپلېـدو اوږده سوچونه وو دې خلکو

16/6/2016

د سپينو نرخ په بر وختو نه او سېده ارزان شول
چې ديدنونه د ګل مخو له هر څه ارزان شول

دا ترقي نه ده د قام بې عزتي ده ټوله
کلداره لوړه شوه منم خو پښتانه ارزان شول

ګټه يې هر طرف له دواړو خواو ولس ته رسي!
پوډر دې ګران شي پروا نشته که اوړه ارزان شول

سترګې په خدای چې بيا د خيال په غرض توري نه کړې
که د کاجرو له قيمت نه زيات رانجه ارزان شول

له لوړې څوک لا نه دي مړه عمر دراز مروته
دعا کوه که يار د مړو سترګو کاته ارزان شول

25/6/2016

Scanned by CamScanner

صرف په یوې تشې خندا مې زړۀ ورکړی دی
چا چې راخندلي دي ریښتیا مې زړۀ ورکړی دی

بېرته مې د زړۀ په پریشاني باندې ژړلي دي
چاته چې په کوم یوې سودا مې زړۀ ورکړی دی

داسې خپل اعتبار راسره څو، څو ځله کړي دي
نن یې دوکه کړی یم سبا مې زړۀ ورکړی دی

دغه لېونتوب رانه بار بار مینې کښې شوی دي
ښکلیو ته په هرې یوې ادا مې زړۀ ورکړی دی

دې باوجود بیا عمر دراز مروت تېروتی یم
چاته چې د شپې، نه په رڼا مې زړۀ ورکړی دی

1/7/2016

Scanned by CamScanner

دا یاري نه کوي یاران هسې اسرې کښې ساتي
دا خلک ټول عمر ملګري په تیارې کښې ساتي

په خوله بازار کړي درته جوړ د زړګي سر دې ګڼي!
بل خوا ته غشي درته پټ، پټ په لینده کښې ساتي

که د زړهٔ غوښې ورکوې روږدی به بیا هم نه شي
دا د تارو زامن به څوک تل په پنجرې کښې ساتي

هغه دې نه کوي یاري د دې لنډ تریو خلکو!
څوک چې زما غوندې تنګ زوړونه په سینې کښې ساتي

څوک وي زمونږ غوندې مړخولي له خولې سپږ نه باسي
څوک لکه ته جانانه بل اورونه خولې کښې ساتي

Scanned by CamScanner

په دې سیاست کښې ښکلیو دومره ترقي کړې ده
هغه زما غونډې ډېر زړونه په قبضې کښې ساتي

د یار له مړو سترګو قربان عمر دراز مروته
د نېشه یې غونډې مې ډوب تل په نشې کښې ساتي

12/7/2016

## یو شعر

زما د قام د سر خوړلو شمار له شمار ووته
زما د ملك پاسبان لا هغسې جیبونه ګوري

Scanned by CamScanner

ما سره چې د کومې قیصې وېره وه
بیا رانه هغه خبره هېره وه

زړهٔ د زړهٔ له تل مې چې درکړی دی
ما د پاره دا خبره ډېره وه

تلی وخت په بېرته واپس نه راځي
ما باندې رښتیا چې وروستو تېره وه

حسن عموماً تا جراتي وو خو
مینې دغه حال وو خو کمتېره وه

تا له صفتونو څوك وزګار نه وو
دا خبره ډېره وه ښه ډېره وه

تا نه بېلېدل د خېر کیسه نه وه
بیا هم چې له سَنده وه له خېره وه

Scanned by CamScanner

هېر يې کړم خو هېر راځخه نه شو يار
مينه يې رښتيا زړهٔ ته راتېره وه

تا په سر د ټول کلي له مخه وم
تا په سر مې هر څه سره تېره وه

زهٔ عمر دراز مروت پرې پوه نه وم
زما به همېشه ګيله له غېره وه

15/7/2016

خدایږده که زهٔ دومره له حیوان نه ویرېدلی یم
څومره چې د دې وخت له انسان نه ویرېدلی یم

تا نه چې ګیله د ستا د ظلم هم کوی نه شم
اوس خو یقیناً د خپل ایمان نه ویرېدلی یم

سرفه برناحق چې نه په ورور او نه په پلار کوي
توف په دې غیرت ددې افغان نه ویرېدلی یم

یو فتوه د کفر راکوي او بل مې وژني چې
زهٔ د دې سپین ختي مسلمان نه ویرېدلی یم

کله له معیار د انسانیت چې را پرېوتی یم
زهٔ له هغه ورځې له خپل ځان نه ویرېدلی یم

اوس د پېنځلسمې له یارانو یاري نه غواړم
اوس د پېنځلسمې له جانان نه ویرېدلی یم

Scanned by CamScanner

ستا د لاس ږلی او تندرونه مې ليدلي دي
څکه دې آسمانه له باران نه ويرېدلی يم

ګله دغه ګل غوندې خندا ته دې خفه نه يم
ګله ستا د ګل غوندې دوران نه ويرېدلی يم

زهر او درمل عمر دراز مروته فرق لري
درد چې راکوي له دې درمان نه ويرېدلی يم

20/7/2016

ما درته ویلې نه! اول ګرانه ده
مینه د ښکلو په هر پل ګرانه ده

د خوب لېدل دي زړۀ په دې دور کښې
چې یا یاري غواړي یا مل ګرانه ده

ډېرې جرګې مې پرې جرګه کړې خدای شته
خو په یو هم نه شوله حل ګرانه ده

د خدای په فضل به خلاصېږي ګنې
په خدای بخښنه په عمل ګرانه ده

حالات په هر لوري سور اور، وروي
دې باوجود لیکم غزل ګرانه ده

Scanned by CamScanner

چې د پې مخو پالیسي نه لري
زړګیه، جار او په بېسمل ګرانه ده

بیا مې د صبر امتحان اخلي
پیکی یې بیا دی ول په ول ګرانه ده

ما ورته ویل عمر دراز مروته
یاري له ما سره په چل ګرانه ده

25/7/2016

Scanned by CamScanner

## قطعه

ځان دې اول وپېژني دا سړی!
څوک په حقیقت کښې چې د بل پېژند ګلوي غواړي

هغه د لمونځونو مسلمان جانان ته ووایه
خدای ته د لمونځو ضرورت نشته بندګي غواړي

18/7/2016

## قطعه

ته زورور وې د بل زړهٔ کښې دې په زور غوښته ځای
زهٔ هم پښتون وم پردی جنګ مې په قیمت اخیسته

ستا د خمارو سترګو زور وو په خمار عادت شوم
نشه یې نه ومه خو بنګ مې په قیمت اخیسته

18/7/2016

Scanned by CamScanner

# قطعه

اوس دې زور د سترګو د زور نه لرم
هغه د زړهٔ زور مې ختم شوی دی

زړهٔ باندې د ستا د لېونی مينې
هغه سرکی اور مې ختم شوی دی

30/7/2016

# قطعه

جذبات او احساسات مې له هغه ورځ رابيدار دي
په کومه ورځ جانانه راکتلي دي چې مړهٔ دي

له هغه ورځ تر نن پورې لاخپلې شونډې زبېښم
په شونډو کښې مې اوس هم ستا د سرو شونډو خواږه دي

30/7/2016

Scanned by CamScanner

خدايه! دستا له لوی قدرت نه انکار نه شم کوی
هر څه به يم خو حقيقت نه انکار نه شم کوی

زر که دېر پټ شي بيا ښکاره شي د زرګر په دوکان
د غنم رنګ يار له اُلفت نه انکار نه شم کوی

دستا ښاېست منم او مينه دې ربښتيا راسره
خو د رقيب له رقابت نه انکار نه شم کوی

د تا بغېر مې چرې خپله رضا کړې نه ده
د ستا له سترګو حکومت نه انکار نه شم کوی

جانان ته حسن او اخلاق که خدای د حورې ور دي
خو بل طرف ته له جنت نه انکار نه شم کوی

Scanned by CamScanner

رقیب که زور لري جانانه او اور هم په خوله کښې
خو بیا د خپل ښکلي قسمت نه انکار نه شم کوی

حسن منم او زور یې هم تر ډېره حده پورې
د پاکې مینې کرامت نه انکار نه شم کوی

ما به زړۀ ور وې په رښتیا عمر دراز مروته
خو د جانان له سخاوت نه انکار نه شم کوی

30/7/2016

Scanned by CamScanner

څه مې دې خپل ساده زړګي راسره داسې وکړل
بل هغه ښکلي ګل لالي راسره داسې وکړل

نه شوم د دین نه د دنیا له دواړو، ووتمه
د پورې کلي یوه سړي راسره داسې وکړل

ما به چې چاته له ډېر نیازه لیونی ویلو!
خدایږو چې هغه لیوني راسره داسې وکړل

سپېره ازغي مې ترېنه راوړل د ګلونو په ځای
قسمته دا ځل پسرلي راسره داسې وکړل

د یار په سترګو مې لا سترګې مړې نه وې تېر شو
نن په رښتیا مازدیګري راسره داسې وکړل

Scanned by CamScanner

ځو چې دوران د جانان تېر نه وي تر هغه پورې
لوی غنیمت دی که مرګي راسره داسې وکړل

له یار مې نه شته دی ګیله عمر دراز مروته
دې خپل غربت او بې وسي راسره داسې وکړل

2/8/2016

## یو شعر

دغه له چا سره یاري تر سره نه رسوي!!!
دغه لمر مخي هم د لمر غوندې دي ورځ تېروي

Scanned by CamScanner

دا خلک هېڅ کله رښتیا نه وایي
د چا رښتیا ته چې رښتیا نه وایي

دا سړی زهٔ ډېر له نېږدو پېژنم
صفا سړی دی خو صفا نه وایي

خپل ناروا یې روا کړي چې دي
زما خطا ته دې خطا نه وایي

دا ستا مَېن دا یو خامي هم لري
لالیه! هر چا ته اشنا نه وایي

دوك به څه خامخا په زړهٔ کښې لري
هره قیصه چې په خندا نه وایي

Scanned by CamScanner

ګنې په یو نیم پسې ډېر څه وایي
تا څه ګڼې چې څه له تا نه وایي

هغه له ما عمر دراز مروت نه
ګیله مند دی خو له حیا نه وایي

3/8/2016

## قطعه

حق دي چې وکړمه ګیله درڅخه
هېر رانه، نه یې خو هېر کړی دې یم

سپینې په چا باندې ښې نه لګیږي
که سپینه وایم په تېر کړی دې یم

Scanned by CamScanner

ستا په سر که ورانه ده، ودانه ده
مینه دې که ګرانه ده، ارزانه ده

زړهٔ چې یار د زړهٔ په بدله غواړي
دا قیصه مشکله ده، آسانه ده

ستا او زما قیصه ډېره محدوده ده
ستا ګیله له ما، او زما ستا نه ده

ګله! دا یو زهٔ دې قدردان نه یم
ټوله علاقه دې، قدر دانه ده

کوم کوم به پوره کړم ارمان یو نه دی
دا نیمګړې هسې، له ارمانه ده

یو عمر دراز مروته، ته نه یې
ټوله علاقه، ورته حیرانه ده

8/8/2016

## قطعه

دستا د تورو پنجابیو سترګو زور مې ولید
د زړهٔ په ملك مې لا تراوس حکمراني ده دا ستا

زړهٔ مې ازاد د ستا د تورو زلفو، ولونو نه شو
ستا په اختیار چې یم نو دا هم غلامي ده دا ستا

9/8/2016

## یو شعر

اول د ځان پېژنګلوي روستو د بل په کار ده
تا چې ځان نه دی پېژندلی ما به څه پېژنې

Scanned by CamScanner

چې خپل خود دار سرکش ضمیر سره مې روغه وکړه
د طالبانو له امیر سره مې روغه وکړه

اوس به د میني خلاف پل په مځکې نه اخلم
چې د ښایست پیرانو پیر سره مې روغه وکړه

نوره د زړهٔ د تدبیرونو امامت نه کوم
د دې نه پس چې د تقدیر سره مې روغه وکړه

اوس به دې خدای نه عموماً په دعا ګانو غواړم
چې د اخلاص مخلص فقیر سره مې روغه وکړه

نور د آذر غونډې بُتان له کانو نه جوړوم
د لوی تخلیق له مصور سره مې روغه وکړه

Scanned by CamScanner

اوس به مو کلي ته له غرۀ سرپیخوارۀ نه راځي
چې د بادشاه او د وزیر سره مې روغه وکړه

اوس به له تورو بلاګانو اکثر نه ویریږم
د تورو سترګو بې نظیر سره مې روغه وکړه

د مینې علم تړي کوم عمر دراز مروته
دا چې رقیب که مو فقیر سره مې روغه وکړه

5/8/2016

وضاحت: د دې ردیف (روغه وکړه) لپاره درویش دراني یو
جهان مننه.

حسن که د کلي که د ښار دی اوس
جوړ په بر ملا ترېنه روزګار دی اوس

اوس ورسره غم زما د مینې شو
هغه چې د هر چانه وزګار دی اوس

اوس هغسې ډېر راته یادېږي نه
هغه هم د ډېرو خلکو یار دی اوس

هغسې اوس چیکه یې ریبی نه شي
هغه چې بې لارې وو په لار دی اوس

څوک چې د ګلونو خریدار وو تل
هغه د سپېرو ازغو سینګار دی اوس

چا چې حق ته حق په جار ویلي دي
هغه د منصور غوندې په دار دی اوس

Scanned by CamScanner

دلته هېڅوك خپله رضا نه کوي
دلته د څو ښکليو اقتدار دی اوس

دلته فرق د ګرم او ناګرم نشته دی
دلته بې ازار سړی ازار دی اوس

ته هم د دې يو سړي پاپند يې اوس
زما هم د دې يو سړي نه خار دی اوس

ګله! صرف يو عمر دراز مروت
ستا د تورو سترګو خريدار دی اوس

8/8/2016

د ستا دپاره ستا هر حکم ته تیار وم یو وخت
لالیه! زهٔ هم د ستا حسن خریدار وم یو وخت

د ریاکارۍ نه وم قایل ګنې تو بې راتللې!!!
شېخه! د ستا غوندې توبو ته ښه وزګار وم یو وخت

دا به منې چې لېونتوب او ځواني ورور او خوردي!!
ځکه که هر څو په لار سړی وم خو بې لار وم یو وخت

رښتیا ده مینه ډېر بې کار سړی د کار سړی کړي
بلا سرونه وو خو زهٔ پکښې سردار وم یو وخت

هغه وختونه مې لا اوس له زړهٔ وتلي نه دي
لالیه! تاته به چې ناست په انتظار وم یو وخت

Scanned by CamScanner

سپیځلې مینې یو تر بل وو نزدو کړي دومره!!!
ته که ګلاب وې زهٔ دې هم په څنګ کښې خار وم یو وخت

د زړګي کور به مې تل ډک وو یار له سرو غمونو
یارانو زهٔ هم د رقیب غوندې مالدار وم یو وخت

هر څه مې پریښي وو تر شاه عمر دراز مروته
روښانه ورځ به یار د مړو سترګو په ښکار وم یو وخت

13/8/2016

# درې شعرونه

خيـــر دی فيصـــله پـــه ســـر د دار راســـره وكـــه
خـــو ښـــكليه! خـــدای د پـــاره يـــوه لار راســـره وكـــه

زړۀ مه راكوه خير دی خو په زړۀ كښې زړۀ ته ځای را
جانانـــه صـــرف ددې قيصـــې اقـــرار راســـره وكـــه

هغه دې وعده وخوري خو چې مونږ تيښ ستركي نه شو
زړگيـــه! صـــرف دومـــره انتظـــار راســـره وكـــه

16/8/2016

دَ تورو سترګو چې د تورې لیلا قدر کوم
خومره ساده یم چې د تورې بلا قدر کوم

د زړهٔ په کور کښې مې ځای ور دی زړهٔ یې هم ساتم
خومره په ښکلې طریقې د اشنا قدر کوم

د خدای له مینې نه ده هر وخت وېرولی یم که
دې باوجوده زهٔ لا بیا هم ملا قدر کوم

د یار په باب کومه خبره چې له خولې وباسي
زهٔ د رقیب د قدردانۍ وېنا قدر کوم

زهٔ د کوتپیز غونډې فطرت یارانو نه لرم
زهٔ د پتنګ غونډې په جار د رڼا قدر کوم

زۀ قـدر دان د مسـتقبل يـم تـر دې حـده پـورې
زۀ لــه سـبا نــه تـر سـبا د سـبا قـدر کـوم

لاليــه! زۀ کـه ډېـر بـې شـماره قـدردان لرمـه
خو خداى ګواه دى چې د ستا په رښتيا قدر کوم

د داد لايــق يــم يقينــاً عمــر دراز مروتــه
چې څوک مې وژني بيا د هغه د ښکلا قدر کوم

20/8/2016

نور په خدای که د هېڅ نه دې ویرېږم
خو د غم له تور لېوه نه دې ویرېږم

خدایه ستا دا یو کم سل نومان مې یاد کړل
خو ناتوان یم له دې یو نه دې ویرېږم

د ملا غوندې له سپین لباس دې جار شم
د عمل سړي خوارۀ نه دې ویرېږم

چې تنها مې ورته پرې نه ږدې ګل مخیه!
دې ناترسې ببلتانه، نه دې ورېږم

له دې سپینې خولې دې وګرځم سپین وایې
په وجود کښې ننه زړۀ نه دې ویرېږم

د مغل کردار دې ښه راته معلوم دی
خو له نوم د پښتانهٔ، نه دې ویرېږم

که غماز دی که رقیب دی او که غم دی
یو خو نه دی له هر یو، نه دې ویرېږم

چې غلام عمر دراز مروت د بل یم
خدایه! داسې ژوندانه، نه دې ویرېږم

25/8/2016

Scanned by CamScanner

زړۀ مې چې ساتي داسې يو ښکلى مې مونده نه که!
سترى شوم په خداى خو خداى ساتلى مې مونده نه که

هر يو د تنا غوندې تانبړي خو وريبړي نه
ښکلو کښې د بم په شانې غلى مې مونده نه که

زړۀ باندې تک تورو مې زړۀ تور له ياراني نه که
زړۀ باندې صفا او سپين سپېڅلى مې مونده نه که

چل او په فريب يې واړه سيمه فتح کړې ده
مينه چې کوي داسې ښاغلى مې مونده نه که

ته عمر دراز مروت زړۀ په نورو خلکو خورې
تا غوندې غمجن او غم ځپلى مې مونده نه که

27/8/2016

Scanned by CamScanner

## درې شعرونه

خامخا ماتم راپسې وپاله
څو ورځې څو غم راپسې وپاله

یاد مې دې تل زړۀ کښې ګرځولی دی
یاد په هر قدم راپسې وپاله

ځان د تهمتونو تور نه وساته
پت د یارۍ سم راپسې وپاله

10/9/2016

Scanned by CamScanner

حُسن نه د اور غونډې لوګی او نه لمبه کوي
حسن د مرض غونډې په زړهٔ باندې حمله کوي

هغه د پښتو روایتونو چې پابند وو کلک
هغه سترې مشې اوس د سر په اشاره کوي

څو چې یارانه د زورورو رقیبانو کړې
هومره ملامت نه دې که ماسره دوکه کوي

ښکلې د دیدن په بدل نغد له سړي زړهٔ غواړي
دا خو عاشقان دي چې په زړونو کښې قرضه کوي

سترګې د مې سترګو ازلې له خمار ډکې دي
دا درته چا ویله لېونیه چې نیشه کوي

Scanned by CamScanner

هغه لېوني خو خپل ښاېست په سر اخيستی دی
مونږ سره به څرنګ په دې حال کښې يارانه کوي

ډېره غريبي مې ده بې وسه يم که زړۀ لري
وايه کبرجن جانان ته لږ دې ګُذاره کوي

حُسن يې منم له حقيقت نه انکار نه کوم
حُسن يې روزي شه خو خبره دې خوږه کوي

وچ راته انکار عمر دراز مروته نه کوي
کله چې رادرومي نه، نو بيا هم بهانه کوي

28/8/2016

لمبې وې او لمبو پسې لمبې وې خونړۍ
منګولې يو د بل په وينو سرې وې خونړۍ

د سور سپرلي په نام وو سور سېلاب د انقلاب
نعرې وې او نعرو پسې نعرې وې خونړۍ

د قام د سر خوړلو مو هېڅ شمار نه وو معلوم
خازې وې او خازو پسې خازې وې خونړۍ

په شعر او په شاعر يې يقيناً چې ډېر اثر وو
مصرعې وې او مصرعو پسې مصرعې وې خونړۍ

د وېرې او د خوف نه چا خپل حال ويلی نه شو
جرګې وې او جرګو پسې جرګې وې خونړۍ

په داسې وخت کښې وير عمر دراز مروته شر وو
خو بيا مې په نغمو پسې نغمې وې خونړۍ

30/8/2016

Scanned by CamScanner

زما د عقل چې شو توان کمزوری
اوس راته ښکاري خپل داستان کمزوری

هغه صفا خبره نه شي کوی
د کوم سړي چې وي ایمان کمزوری

بیا زوره ور یې قیصې ولې کوي
خلک خو وايي دا انسان کمزوری

د زورور او به په لوړې خیژي
جانانه ونه کړې تاوان کمزوری

مونږه تندو بې ځمکې للمې شولې
خدای کله ونه کړې باران کمزوری

Scanned by CamScanner

د یار غرور محل یې وران چې نه که
زما د اوښکو وو طوفان کمزوری

واعظه! ته باریک نظر نه لرې
خامخا مه کوه ګومان کمزوری

اوس کړي زاري عمر دراز مروته
د بې وفا چې شو دوران کمزوری

3/9/2016

Scanned by CamScanner

که پسې مرم خو جانان عام نه غواړم
حُسن په يو حال کښې ليلام نه غواړم

زۀ له مروتو شاعرانو ورونو
د ځان د پاره احترام نه غواړم

د تهمت تور نه مې دې ژغوري ياران
نور له يارانو نه انعام نه غواړم

سر ماتول د سر اعزاز ګڼمه
خو سر ټيټي مې د خپل قام نه غواړم

زړۀ در کوم سوال درته نه کومه
خوله دې بيخي د خدای په نام نه غواړم

د یار د سترګو قدردان یم تر دې
چې خپل رقیب له خدای بدنام نه غواړم

سر سلامت د جنګ نه ځله یو وسم!!
ځان چې په یو حال کښې ناکام نه غواړم

یاري ګټه عمر دراز مروته
په یارانه کښې له چا نام نه غواړم

6/9/2016

Scanned by CamScanner

بغیر له مینې بل روزګار نه لرم
دې باوجود د مینې یار نه لرم

د خپل عمل د سرېخور نه سېوا
نور په دنیا کښې له چا ډار نه لرم

که تنهایي راته بیبخي کفر ده
بیا هم په هېچا باندې کار نه لرم

اوس له پې مخو نه ډېر ځنګ وهمه
اوس په مارانو اعتبار نه لرم

د ستا اختیار دی که راځې او که نه
نوره دې توان د انتظار نه لرم

زړۀ ته د یار عمر دراز مروته
لار جوړوم خو لا څه لار نه لرم

17/9/2016

Scanned by CamScanner

دا نه چې ماسره جفا شوې ده
ماسره ټوله ناروا شوې ده

ما یې په چاره اعتراف کړی دی
مانه چې هم د حق وېنا شوې ده

زهٔ په درواغو یاري نه ګرځوم
ما له رښتیا نه ابتدا شوې ده

چا چې په چا پورې خندلي دي تل
هغه سړي پورې خندا شوې ده

د ملنګانو غوندې کلي غواړي
ښکلیو ته داسې بدعا شوې ده

Scanned by CamScanner

ماته احساس د پښېمانۍ شوی دی
مـا نـه چـې کلـه هـم خطـا شـوې ده

بغېـر لـه تانـه ښـکليـه هـېڅ نـه منـي
پـه زړهٔ مـې داسـې څـه بـلا شـوې ده

بيـا بـه راځـي عمـر دراز مروتـه
د مينـې سيـان مـې پـه اشـنا شـوې ده

9/9/2016

Scanned by CamScanner

په ظاهري لباس بيخي پيغمبران دي هغه!
خو ننه زړه نه يې خبر مشې هندوان دي هغه

خوشحالي څه کوې، چې غم يې په بل نه څلېږي
داسې په خپلو کښې په يو بل مهربان دي هغه

د انسانيت توقع نه ده ترې پکار ملګرو
صرف تسبحو او د لمونځونو مسلمان دي هغه

د چم پې مخو د يارۍ متعلق هيڅ نه وايم
که په ښايست وي نو غمي د بدخشان دي هغه

بغير له ځان ورته انسان د انسان زوی نه ښکاري
د چا قيصه چې را پرېوتي له آسمان دي هغه

اوس خو اوبه تر ورخه تیرې دي هیڅ سود نه لري
په خپلو بدو اوس عبث هسې پښېمان دي هغه

هغو که هر څوك په اغیارو بدل کړي یوو مور
دې باوجود مور ساده ګانو باندې ګران دي هغه

ځان ترېنه وساته محفوظ عمر دراز مروته!
د مال د پاره نه په بل او نه په ځان دي هغه

12/9/2016

O

پخوا زما او ستا ترمېنځ چې نفرتونه، نه وو
زړونه دغه وو خو په زړونو کښې اورونه، نه و

دې باوجود غلو او لېوانو نه محفوظ پاتې وو
زمونږ د کور که دومره جيك، جيك دېوالونه، نه وو

ښکلي د چل او د فرېب په لوبې نه پوهېدل
هغه پخوا د يارانو دا رواجونه، نه وو

خلک په پېسې نه پوهېدل خو په قيصې پوهېدل
خلک ساده وو خو خېرن د خلکو زړونه، نه وو

عمل يې زيات و عبادت يې دومره زيات نه کوو
خلک ديندار نه وو د اوس غوندې خو غلونه، نه وو

Scanned by CamScanner

زما او جانان به لاس د یو بل نه ختلي نه و
زمونږ تر مینځ که د یو بل سري لاسونه، نه وو

د سرو او سپینو غلامي چا تصور کښې نه وه
ولې چې چا هم د سرو سپینو محلونه، نه وو

یار هم یو زۀ عمر دراز مروته ستر ګو کښې و م
ما هم د مینې نه بغیر نوره کارونه، نه وو

23/9/2016

Scanned by CamScanner

نشته پروا سرهٔ زر ارزان دې خرڅ شي
خو د سرو زرو په دوکان دې خرڅ شي

انسان خرڅېږي دا څه نوې نه ده
خو د انسان په قدردان دې خرڅ شي

د زرو، قدر له زرګر وي وایي
ګل د ګلونو په باغبان دې خرڅ شي

سر دې سر وخوري هېڅ تاوان نه لري
تاوان به دا وي چې ایمان دې خرڅ شي

بیا به کړې څه عمر دراز مروته
که په قیمت واره یاران دې خرڅ شي

26/9/2016

Scanned by CamScanner

دلته چې تور هلته د سرهٔ، سره مې روغه نه ده
نو په دې پوه شه چې د یوه سره مې روغه نه ده

چې خپل عزت ته د دولت په سر تیلی ورکوي
دې مغل خویه پښتانهٔ سره مې روغه نه ده

کاڼي چې وولي ببرته بیا یې په خپل سر پرېوځي
دغه په غبرګو د ړاندهٔ سره مې روغه نه ده

نه مې خبره اوري نه مې پرې سر خلاصوي
د دې بې غوږو د کاڼه سره مې روغه نه ده

په سپینه ورځ سپېڅلی زړهٔ راڅخه وړي په خندا
هغه د مړو سترګو د غله سره مې روغه نه ده

چې مخ ته راشي سترګې تيتې کړي او وخاندي هم
دې باوجود وايي له دۀ سره مې روغه نه ده

نوم مې په خوله خپلو همزولو تر مخ نه اخلي
اشارتاً وايي هغه سره مې روغه نه ده

له بل به څه کوم ګيله عمر دراز مروته
چې خپل ضمير او د خپل زړۀ سره مې روغه نه ده

3/10/2016

## يو شعر

پروفيسر رحمت الله درد صاحب ته!

د ستا جرأت او حوصلې ته مې سلام دی درده!
خپله دردمن وې خو د بل د درد همدرد وې درده

31/8/2016 وفات

Scanned by CamScanner

نخښې کښې یو ګوته یو رومال را پاتې شوی دی
خیال سره ملګری د یار خیال راپاتې شوی دی

دې باوجود بیا رانه هېر نه شو که یې هېر کړمه
مینې کښې بس دغه لوی کمال راپاتې شوی دی

تانه پس د اوښکو بارانونه او ژړل دي بس
دغه ښه موسم د پشکال راپاتې شوی دی

نه مې د زړهٔ زور شته نه مې زړهٔ ترینه صبرېږي پوخ
زړهٔ او زما مېنځ کښې دا جنجال را پاتې شوی دی

هر ځل د اختر غونډې مې کال نه پس لیدلی دی
دغه غنیمت یې د وصال را پاتې شوی دی

Scanned by CamScanner

خير دی خوشحالي کـه ملګرتيـا راسره و نـه کړه
غـم مـې دې د عمـر سره سيال را پـاتې شـوی دی

وايـي چـې پـردی راوړی زوی د چـا خپليـږي نـه
مـوږ تـه پښوانـو نـه دا مثـال را پـاتې شـوی دی

حـل يـې بـې لـه يـار عمـر دراز مروتـه نـه شـته بـل
زړۀ کښې مې نيمګړی دغـه سوال را پـاتې شـوی دی

15/10/2016

# نیمګړې غزل

روکانه شپه مې تر سحر پورې شوګیر کړې ده
هغه بې نیاز او بې نظیر ته مې کتلي دي ډېر

ما په دې وجې په خپل زړګي باندې زیاتی کړی دی
چې خپل خود دار سرکش ضمیر ته مې کتلي دي ډېر

په خپل ویر مې بیا د ویر د پاسه ویر کړی دی
چې د یوې بورې بلا ویر ته مې کتلي دي ډېر

اوس مې د مینې له مذهب څوک اړولی نه شي
چې د ښایست پیرانو پیر ته مې کتلي دي ډېر

زه د نظر د کمي تور په عمر نه لګوم
د غنم رنګ جانان تصویر ته مې کتلي دي ډېر

تول یې پرې ختم دی هنر عمر دراز مروته
د یار د عکس دې مصور ته مې کتلي دي ډېر

26/10/2016

## قطعه

د وخت ملګرو نه مننه ډېر یاران مې وو خو
له خپل قسمت یم ګیله من چې قدر دان مې نه وو

د خپلو سترګو انتخاب نه مطمین نه ومه
چې یو جانان و، او بل زهٔ وم رقیبان مې نه وو

10/10/2016

Scanned by CamScanner

که زړهٔ مې له غم تنګ دی لا دغسې را پسې دی
ورکړی مې که څنګ دی لا دغسې راپسې دی

شکست مې څو څو ځله دې شل مخو ته ورکړی
اورنګ دی که پیرنګ دی لا دغسې راپسې دی

ادم نه تر دې دمه مې سر نه ورنه خلاصیږی
غنم که غنم رنګ دی لا دغسې راپسې دی

پښتون یم بدبختي راسره جنګ فساد تړلي
نفرت مې که له جنګ دی لا دغسې راپسې دی

د یار بې وفایي عمر دراز مروته خیر دی
خپل زړهٔ راسره جنګ دی لا دغسې را پسې دی

10/6/2016

Scanned by CamScanner

هغه چې زور لري او زر، له مینې کرکه کوي
دلته په هر څه باندې بر له مینې کرکه کوي

1 د ریاکارو خلکو دې عمل ته ډېر پرېشان یم
چې د ګلونو کوي کر، له مینې کرکه کوي

2 د نفرتونو اور تر دې حده را ورسېده
دلته چې سر لري اکثر له مینې کرکه کوي

3 چا خود غرض مو تر منځ داسې لوی دېوال وواهه
د خپلو منځ کښې لر و بر له مینې کرکه کوي

ددې سپېڅلي مسلمان او پښتون څه وواېم
داسې په خدای که سور کافر له مینې کرکه کوي

Scanned by CamScanner

نفـــرت پرســـتو خلکـــو داســـې مینـــه ورتلـــه!
اوس بـه ددې وخـت پیغمبر لـه مینې کرکـه کـوي

حُســن فــروش خلــک د مینــې قــدر څــه پېژنــي
هغـه سـودا کـړي سـر پـه سـر لـه مینې کرکـه کـوي

لـــه نـــاخبر عمـــر دراز مروتـــه څـــه ووايـــم
څوك چې لـه مینې دي خبر، لـه مینې کرکـه کـوي

5/5/2016

Scanned by CamScanner

جيب کښې چې درهم اويا دينار راسره نه و
په چم کښې د پې مخو ذره کار راسره نه و

په عقل څه فايده که افلاتون وم د دې دور
جواز چې هغه ښکلي د انکار راسره نه و

غربت و بې وسي وه له ښايست دې منکر نه وم
چې وخت ستا د راتلو د انتظار راسره نه و

زما د ګناهونو يقيناً چې انتها وه
خو ستا د رحمتونو والله شمار راسره نه و

عمل مې پاکيزه و که بې عقله او ماشوم وم
چې ستا د د وزخونو زره ډار راسره نه و

بغېر د ستا له سترګو له هېچا مېي وېره نه وه
که ښار د ښاپېرو و خو څه خار راسره نه و

د زړهٔ د غولولو په چل ښه پوه وم ملګرو
هنر د غنم رنګو د اظهار راسره نه و

له یار که وخت تېری عمر دراز مروته ګران و
خو یار د خپلولو څه اختیار راسره نه و

دا زړهٔ عمر دراز مروت بې لارې نه وم ځکه
یاران چې ددې دور سم په لار راسره نه و

7/5/2016

Scanned by CamScanner

سپېڅلې مینه او سپېڅلې بندګي پکار ده
د خدای مخلوق سره د زړهٔ سره یاري پکار ده

نوم دې چې تول عمر په زوړونو کښې ژوندی پاتې شي
پاس په سرونو نه، په زوړونو بادشاهي پکار ده

د دې پې مخو بغېر ځان ته عمر نه تیرېږي
دې دردولې زندګي ته رنګیني پکار ده

د بدو زور یې چې سبا څومره زغمی شې په زړهٔ
د وخت ملګرو سره دومره قرباني پکار ده

داسې له هر سړي د زړهٔ ماتول نه دي پکار
ګیله پکار ده خامخا خو له سړي پکار ده

Scanned by CamScanner

د وخت ملګرو کومې کومې يوې ته غاړه کښېږدم
چاته د خداى د ضرورت د چا خدايي پکار ده

ډېرو توبو نه څه فايده عمر دراز مروته
توبه پکار ده ايکي يو مګر سهي پکار ده

12/5/2016

ځومره نام دار وم ځومره زور مې په لاسونو کښې و
چې تا په سر بَل شوی اور مې په لاسونو کښې و

د سیمې واړه سفید پوش زما په ننګ ولاړ وو
چې په ټول چم کښې شر، او شور مې په لاسونو کښې و

د دومره زړونو د ازار باوجود بیا ستایه شوم
داسې مرهم، داسې ټکور مې په لاسونو کښې و

ستا د ښاپست غرور مې مات نه که مغروره یاره
که د زردارو خلکو لور مې په لاسونو کښې و

د اعتبار په باریکۍ کښې دومره لرې لاړوم
د یار په نوم سپیره منګور مې په لاسونو کښې و

Scanned by CamScanner

سپیڅلي خلک مې تورن کړل بر ناحق تر عمره
د تهمتونو داسې تور مې په لاسونو کښېږو

بخت مې بېدار و هغه وخت عمر دراز مروته
چې د زړهٔ سر د سترګو تور مې په لاسونو کښېږو

19/5/2016

## یو شعر

د وخت ترخو، ترخو حالاتو باوجود ملګرو
زهٔ د اصولو دایرې نه بهر ونه وتم

Scanned by CamScanner

غم دې پرېشان کړم دومره ډېر چې پرېشان لرې وينم
د خپل درمند زړهٔ د دردونو درمان لرې وينم

دغه سپين پوش ورځې توبې د شپې تمبې وباسي
د دې سړي په اندرون کښې ايمان لرې وينم

رقيب که هر څو د جومات ملا شي بيا هم خدايږو
په دغې وريځې کښې ږلۍ او توپان لرې وينم

رښتيا که هر څومره ترخهٔ دي خو رښتيا رښتيا دي
نظر مې کم دی يقيناً خو جانان لرې وينم

دا مې ذاتي ده تجربه عمر دراز مروته
په يارانه کښې د خپل سر قاتلان لرې وينم

3/5/2016

# دري شعرونه

کلکه مې د چا سره وعده وه رانه ماته شوه
کړې له توبې نه مې توبه وه رانه ماته شوه

کله، کله وېرې کښې کيسه له سرې هبره شي
ستا له سُرکو شونډو مې روزه وه رانه ماته شوه

خومره په وړې کيسې د عمر رشته ماته شي
زړۀ دې و راکړی که شيشه وه رانه ماته شوه

Scanned by CamScanner

دیدنونه د پی مخو له هر شي دلته ارزان دي
په قیمت چې بر ملا دي که مشکل دي نو اسان دي

دلته وېره د یوې بلا نه مه کړه که هوښیار یې
دلته ټول سړیخوارهٔ د انسانانو، انسانان دي

موږ سپین زړي بیا په هغو خلکو ناز کړو او غره یو
هغه څوك زمونږ د صدق او اخلاص چې قاتلان دي

یارانه دې د چینې ملنګ چینه شوه غنمرنګه
له ما پرته دې د سپینې خولې سل نوره عاشقان دي

بندګي او انسانیت عمر دراز مروته نشته
دلته صرف د تسبو او د لمونځونو مسلمان دي

Scanned by CamScanner

دې نـه مخکښې داسې ایسـار چېرتـه و
یـار مـې دومـره زیـات وفـادار چېرتـه و

مـا ورتـه یـار ویـل ګڼـې یـار چېرتـه و
دې وخت کښې چا لوظ او اقرار چېرته و

زړهٔ یـې چې خپـل راوړ پـه بـدل د زړهٔ
مـا بانـدې یـې دومـره اعتبـار چېرتـه و

خامخـا بـه خلکـو خـود کشـي کـړلـه
دې نـه بغېـر نـوره روزګـار چېرتـه و

زړهٔ کښې د یـار ځـای کـول مشـکل نـه و
مانـه پـوره دغسـې جـار چېرتـه و

ګونګ شه رقیب خپل ځان ته یې ګرانه کړه
یـار دومـره چـالاك او هوښـیار چېرتـه و

یار د نه راتلو کیسه بې ځایه ده
کړی ورته ما انتظار ځېرته و

۶ ما که ورته مینه وقف کړې وه
خلک له نفرت نه وزګار ځېرته و

تا په غنمرنګو سترګې پټې وې
تا سره د حسن معیار ځېرته و

6 ښه ده چې د زوړونو آزار ووایه
وړی چا ازار نه بازار ځېرته و

6 اوس چې کړي احتیاط عمر دراز مروت
مخکښې دومره زیات پرهیزګار ځېرته و

یار عمر دراز مروته ګرم نه و
ما طرز انداز د ګفتار ځېرته و

6/4/2016

Scanned by CamScanner

# درې شعرونه

دا خپل خلوص خپل اعتبار به را پسې روان وي
چېرته چې ځم زما کردار به راپسې روان وي

ما په دې ښار کښې ملنګي په داسې رنګ کړې ده
زۀ چې ترې ځمه واړه ښار به راپسې روان وي

د خپلې مینې بې قدري به مې معاف نه کړي شاید
د خپل درمند زړګي ازار به راپسې روان وي

Scanned by CamScanner

ستا یارانه که کمه هم تر سر تر داره نه وه
بغیر له دې نه زما بله داسې لاره نه وه

بغیر له تا د تنهایۍ ورځې مې هم تېرې کړې
نستي، وسي وه دا منمه خو، خونکاره نه وه

فتح رقیب راخخه وړی نه شوه په دې خبرې
زما خبره چې پریوتې له معیاره نه وه

ته د غرور په بام ولاړ وې او زۀ د ضد په کرښې
زما او ستا تر منځ د شر کیسه له باره نه وه

قاتل که هر څو د ملا لباس کښې ځان نغښتی و
زما د ډېرې تجربې سطح بې کاره نه وه

سر یې له غم نه خلاصیده عمر دراز مروته
د پښتونخوا خاوره سپېره وه خو بې پلاره نه وه

15/3/2016

Scanned by CamScanner

غم دی که بېلتون دی له هجران سره تړلي دي
دغه نفرتي يو څو شيان سره تړلي دي

زړۀ مې که بابللی دی زړۀ سر مې پرې ګټلی دی
سوچ پرې کوه ګټه او تاوان سره تړلي دي

يو هم د يو بل نه جدا ځانته ګزران نه کوي
زنه ده که خال که زنخدان سره تړلي دي

زړۀ باندې به خامخا څه درد لرم چې ژاړمه
وربېځ ده که تنا ده که باران سره تړلي دي

زۀ که يو ملنګ او ته بادشاه د علمونو يې
دا منه چې ځمکه او اسمان سره تړلي دي

Scanned by CamScanner

حسن دی شباب دی که غرور دی که نازونه دي
دغه د یو څو ورځو یاران سره تړلي دي

یاد دې دي، هغه عمر دراز مروت چې ویل درته
ته او دستا قدر او دوران سره تړلي دي

5/3/2016

## دوه شعرونه

ځان یې په هر رنګې بدل که خو بدل یې نه کړه
په دې غرض راسره مل شه مګر غل یې نه کړه

زۀ هغه سوال یم د خلوص عمر دراز مروته
فریب یې تول را باندې ختم که خو حل یې نه کړه

5/1/2017

Scanned by CamScanner

زهر دې وخوري که مجبور شي اعتبار دې نه خوري
په یارانه کښې د یاري ښکلی کردار دې نه خوري

انکار دې وکړي سپین صفا بهانو کوم ضرورت؟
جانان ته ووایه د هره ورځ اقرار دې نه خوري

انتظارونو زما توره ږیره سپینه کړله
دی نا خبره په خپل ځای چې انتظار دې نه خوري

ما به د کلي خلک ډېر ستایل د ښار په نسبت!!!
چا راته ویله چې په لار سړي بې لار دې نه خوري

وخت یې لاشته دی د ښایست وار خطا کېږي دې نه
لا پسې اوړي سترګې وار دې کوي وار دې نه خوري

بې روزګاري دې قتلوي د دې بې حسه وطن
سړی چې څه نه څه احساس لري روزګار دې نه خوري

✓ سبا چې بیا خیرې ګرېوان کلي په کلي ګرځي
نن یې خبر که چې د خوږو، زړو آزار دې نه خوري

✓ لکه د نن سبا یاران عمر دراز مروته
داسې په خدای چې د لستوني سپيږهٔ مار دې نه خوري

Scanned by CamScanner

# درې شعرونه

دیدن شو ګران شاندې او اوښکې ښې ارزانې اخلي
په یوې خندا پې مخې څومره ژړاګانې اخلي

زړونه آزار کړي خو له زړونو آزار نه ور وځي
ظالم د ظلم په بدل هم دعاګانې اخلي

ځان یې په تول چم کښې په هرسړي تسلیم که داسې
اوس فیصلې د خپلې خوښې، ښې پریمانې اخلي

نه مو غمخوار، نه مو همدرد او نه مو مل ثابت شو
هغه رهبر زمونږ د لارې چې و غل ثابت شو

زما تر غاړې غړوندی د غلامۍ چې و تل
ګرانې هغه ستا د پېر پېچو زلفو ول ثابت شو

زما قاتل تر شا لاسونه زما خپل سړي وو
شك مې يقين شو هغه دوست مې مكمل ثابت شو

زما د تيرې زندګۍ عكس يې كتلى نه شو
زما همدرد صرف د شونډو په بسمل ثابت شو

چې نه شعريت، نه موسيقي، نه رواني وه په كښې
هغه زما عمر دراز مروت غزل ثابت شو

# دوه شعرونه

ما یارانه د ښکلیو وکړه خو پخه مې نه کړه
ډیره مې پرېښوه د سنتو په غرض مګر اوږده مې نه کړه

له بې وسۍ مې په ختېځ لمونځونه هم وکړل خو
لکه ملا بدله هره ورځ قبله مې نه کړه

# درې مصرئیز نظم

ډېرې مودې شوې بارانونه نشته!
خدای ته سوالونو باندې ډېر ستړي شو
خو په رښتیا مو خدای ته ونه ژړل

8/1/2017

Scanned by CamScanner

٩٤

د کور له وره نه چې په جار او په بسمل راوځي
هغه نازبین د یاراني به چې کوم حل راوځي

سپین زړی یم خو اوس په سپینې خولې اعتبار نه کوم
اوس د جومات نه د ملا لباس کښې غل راوځي

کار څه خپل امر کوي ده چا قدرت نه مني
مګر په کار پسې د خدای په توکل راوځي

د ستا د زړۀ هره غوښتنه مې په ځای کړه مګر
زما د سوال جواب لا هغسې بدل راوځي

غل مو معلوم کړو کور یې هم عمر دراز مروته
چې د ظالم د بدو مرستې به کوم مل راوځي

اوښکې وې سلګۍ او شوګیرې را بانـدې تېرې شوې
تانـه بغېـر څـومره زمـانې رابانـدې تېـرې شـوې

يو خوا تـه ځانمرګي دهماکې وې بل خوا خپل وو تول
داسـې د بـارودو بـدمې رابانـدې تېـرې شـوې

وايـي هوښـياران چې بې نېتې مرګونـه نشـته دي
څومره سختې ورځې سختې شپې رابانـدې تېرې شوې

اوس مـې لـه لمبـو د دوزخ مـه وېـروه شـېخه چـې
دلتـه چـې د ظلـم سـرې لمبې را بـانـدې تېـرې شـوې

هله مې د عقل سترګې خلاصې شوې پـه هـوش شـومه
کلـه چـې د وخـت تـودې سـړې را بـانـدې تېـرې شـوې

چـا عمـر دراز مروتـه لاس د يـارۍ را نـه کـه
ډېـرې د يـارانو قـافلې رابانـدې تېـرې شـوې

چې ستا حُسن د ستاېلو يو اسباب يم
بيا ايستلی دې په څه له خپل کتاب يم

زهٔ بدبخت يم که د هغه بخت بېدار وي
اوربدلی همېشه چې په قصاب يم

هر نالوستی مې چې لوستی چېرې نشي
د اصولو په کتاب کښې هغه باب يم

چې کوم زړونه مې ساتل د زړهٔ په وينو
نن چې ولې هغه زړونو کښې ناياب يم

دستا سترګو د ديدن نصيب مې نشته
پاتې شوی همېشه له دې ثواب يم

فقط ستا د سوال جواب راسره نه وي
نورو خلکو ته په خدای حاضر جواب یم

یاران ګرَم عمر دراز مروته نه دي
زهٔ د خپل اخلاص دلاسه په عذاب یم

## دوه شعرونه

یار د یارۍ ما او رقیب ته یو مقدار ټاکلی
بادشاه د هر ظلم مجرم دپاره دار ټاکلی

زهٔ شکایت او ګیله نه کوم له هر یو سړي
ما سړیتوب دپاره هم دی خپل معیار ټاکلی

Scanned by CamScanner

دلته په نوي رنګ کښې نوې سزاګانې راځي
د ملایکو په لباس کښې بلاګانې راځي

د سر قاتل نه چې سر ژغورو نو جواز مودا وي
چې مورِ سپین ختوته ښې دېرې دعاګانې راځي

دا مو چې زړونه دي که کاني په سینو کښې ننه
د چا د اوښکو په سلګو چې خنداګانې راځي

دا دې د زنې زنخدان دی که چینه په ګودر
چې ورته جونه له هر کلي نه پریمانې راځي

پېچې ته ګوره چې د تګ خبره ونه چیړې
دغه دي اوښکې مې له سترګو راروانې راځي

په دې کښې نشته حقیقت عمر دراز مروته
د یار له لورې نه دا هسې افواګانې راځي

Scanned by CamScanner

تاچې لوظونه د راتلو کړل واړه مات د شونډو
له ما دې هر څه په ژوندون کړلو مېرات د شونډو

اوس دې پې مخو سینې هغه رنګې تنګې نه دي
اوس په مېنو باندې نه رادرومي قحط د شونډو

ترخې کیسې یې چې خوږې لکه شکرې کړلې
اوس مې تسلیم که یقیناً چې کرامات د شونډو

ما د رنړو اوښکو دوکان و ، ستا د سپینې خولګۍ
ما ملغرلې خرخولې ، تا نبات د شونډو

کیسې یې ځکه دي خوږې عمر دراز مروته!!!
ورسره ګډې دي په خدای چې خواږه شات د شونډو

Scanned by CamScanner

ژبه او ګفتار لکه اوبه او اور
ته او ستا کردار لکه اوبه او اور

زنه زنخدان لکه دوه خور او ورور
سترګې او خمار لکه اوبه او اور

زړۀ کښې سُرکي اور په خوله کښې قند او شات
دین او دنیادار لکه اوبه او اور

ته او رقیب دوه په دوه په یو ځای کښې
ګل او څنګ کښې خار لکه اوبه او اور

Scanned by CamScanner

دوه خود سري ورۀ په ورۀ په يوچم کښي
زلفي او رخسار لکه اوبه او اور

حسن او شباب او د مغرور لفظ
ګنج پرې پاسه مار لکه اوبه او اور

نن يې چاته ويل عمر دراز مروت
زۀ او زما يار لکه اوبه او اور

Scanned by CamScanner

بې لارې خلک دي په لاره نه ځي
ګنې تر یاره کومه لاره نه ځي

زمونږ د تن په غوښو روږدي یاران
هغه اوس داسې په قراره نه ځي

د مَېن زړۀ له لېونتوب نه قربان
تر یاره ځي مګر له یاره نه ځي

غواړي جنت د عبادت په بدل
هېڅوک جومات ته خدای د پاره نه ځي

د مودو پس عمر دراز مروته
شوخي یې اوس هم له رخساره نه ځي

پـه خولـه خندا پـه زړهٔ ویشـتلی ګـرځم
د چـا د لاسـه دردېـدلی ګـرځم

یـار بـه ترڅـو منـي دروغ د رقیـب
زهٔ بـه ترکومـه پـورې غلـی ګـرځم

څـو مـې چې تـه د سترګو تـورې ګلـه
زهٔ بـه رقیـب سترګو کنبـې خلـی ګـرځم

د غـنم رنـګ جانـان د لاسـه مـدام
لکـه غـنم پـه زړهٔ چـود لـی ګـرځم

بیـا هـم هغـه سړی پـه سـر ګرځـوم
د چـا د لاس چـې غـم ځپلـی ګـرځم

لـه تهمـت تـور عمـر دراز مروتـه
لکـه مـلا صـاحب سـپېڅلی ګـرځم

چل کوه په زور دا زورور له کوره نه وځي
تا په سر داو شوي جوارګر له کوره نه وځي

حسن او غرور له زمانو سره تړلي دي
زور په هیڅ یو رنګ له زورور له کوره نه وځي

چا چې زمونږ خولې ته د خپل هنر په دم، دم کړې وې
اوس هغه منلي پاړوګر له کوره نه وځي

ځان به وچ په وچه ګرموي ګني په بل هنر
دا ګیلې ماني د مرور له کوره نه وځي

چا چې پسرلي زمونږ د امن دردولي دي
سوچ کوه اوس هغه جادوګر له کوره نه وځي

Scanned by CamScanner

شر او شریر دواړه له یوې مور غبرګوني رونه دي
وېره ده که ویر د ترخهٔ ګر له کوره نه وځي

وخت که ور په غاړه کړو کچکول د ملنګۍ نو بیا!
لاهغه مغرور د سکندر له کوره نه وځي

چا عمر دراز مروته داسې ترسولي دي
دلته که وړوکي دي که ستر له کوره نه وځي

Scanned by CamScanner

(6)

توري اوغشي نيزې راوړه او زغرې راوړه
وخته، په خدای د پښتنو هغه لښکرې راوړه

دې نوي دور د تهذيب سره سمون نه خورمه
هسکې شملې، درانه ټکري، درنې خبرې راوړه

دلته د تورو، تورو سترګو ديدن نه دی مشکل
خو ته د سپينو سپينو اوښکو مرغلرې راوړه

خوله مې ترخه ده د فراق له ترخو زهرو څخه
که ترس لرې د يار د سرو شونډو شکرې راوړه

زۀ به اتڼ ته را بېدار کړم شاه زلمي د وطن
خو ته د امن پخوانۍ زړې سندرې راوړه

کیسه د شور نه ده د شر ختم کول په کار دي
له رنګ نه تېر شه د خوږلت پاره ګورګورې راوړه

دلته په چل ده یارانه عمر دراز مروته
کیسه د زور نه ده خبرې زور ورې راوړه

## دوه شعرونه

دلته په شعر هېڅوک نه پوهېږي
اوکه پوهېږي په شعار پوهېږي

دلته پښتو کتاب لوستونکي نشته
دلته اکثر خلک په اخبار پوهېږي

Scanned by CamScanner

ږیره مې سپینه شوه خو زړهٔ د جانان سپین مې نه که
هغه ګنډیر په منتونو جوړ ګبین مې نه که

ما تر خپل وسه ورته ډېرې مسئلې وکړلې
د بې یقینو خلکو بیا جوړ پرې یقین مې نه که

د بُت پرستو په ماحول کښې مې ټول عمر تېر که
خو خپل ایمان خدای شته لاهو په اباسین مې نه که

رنګین خیالونه مې راغونډ کړل په ګل بند کښې د زړه
خو د غزل مزاج غوندې رنګین مې نه که

ځوانه، ځوانې مې کړه ترې ځار عمر دراز مروته
دې باوجود ځان په شیرین جانان شیرین مې نه که

7/7/2016

Scanned by CamScanner

چم کښې د غرض واړه یاران مې پېژندلي دي
دغه د لمونځو مسلمانان مې پېژندلي دي

کله چې تر منځ مو د لالچ مسئله ختمه شي
ته او ستا د حُسن قدردان مې پېژندلي دي

دې خلکو یاري ده په شرمونو، شرمولې تل
دغه د ښاېست دوکانداران مې پېژندلي دي

مخامخ کړي جار راته خو شا په شا مې پښې وهي
دغه څو سور مخي رقیبان مې پېژندلي دي

کله به در خاندي کله تا پورې خندا کوي
ټول حرکتونه د جانان مې پېژندلي دي

Scanned by CamScanner

ماته یې صفت د کردارونو عبث مه کوه
ستا نمک خوارهٔ تول مجنونان مې پیژندلي دي

زهٔ عمر دراز مروت که زړهٔ لرم ضمیر لرم
اوس هغسې نه یم سود او زیان مې پیژندلي دي

15/11/2016

## دوه شعرونه

ستا ننګیالیو سترګو دا را باندې ننګ کړی دی
چې انتخاب مې همېشه د غنم رنګ کړی دی

تاریخ ګواه دی په دروغو دلیل نه درکوم
موږ پښتنو تل د پردو د پاره جنګ کړی دی

20/11/2016

Scanned by CamScanner

## درې شعرونه

خدای هم ناراض و له آسمان، نه بارانونه بند و
ته هم بادشاه وې ستا د سترګو دیدنونه بند و

غم به دې هره ورځ راته په غم دې نه و قدغن
دستا له لورې د مودو نه سلامونه بند و

مونږ د ډالرو زور تر دې حده راوستي و چې
د خپلو منځ کښې مو د یو په بل ویرونه بند و

اخلاص مند سړي په هر څه کښې اخلاص وي
چې اساس نه وي نو څه به يې احساس وي

ستا ديدن راته سبب د شرک نه شي
هره ورځ د دې کيسې مې ډېر وسواس وي

چې په زړهٔ کښې يې خلوص درسره نه وي
ستړي مشي يې عبث که په دوه لاس وي

هغه دوه به همېشه لاس او ګرېوان وي
چې تر منځ يې د منځګاړي سړي لاس وي

هغه څوک به همېشه په سر درخېژي
ګرځولی دې هر وخت چې په سر پاس وي

هغه څوک عمر دراز مروته ړوند وي
خطا شوی لکه زهٔ چې په لباس وي

خدا یزده چې زړهٔ به د هغه داسې و؟
خوږ لکه ګوړه که په خوله داسې و؟

لکه په ګنج پېره داران ولاړ وي
ولاړ په سترګو يې بانه داسې و

لکه په جنګ کښې جنګيالي پښتانهٔ
خونکارو سترګو يې کاته داسې و

هر مصور ګوته په خوله وو ورته
د جانان واره کړهٔ، کاتهٔ داسې و

ځان سره سيال يې بېخي څوک نه مانه
خوی له ازل د پښتانهٔ داسې و

Scanned by CamScanner

يار د راتلو منظر مې دومره ياد دی
لکه منظر د لمر خاته داسې و

په نه کيسه به ماتېده له سړي
د غنمرنګي جانان زړهٔ داسې و

لکه دا زهٔ عمر دراز مروته
ډېرې په سترګو پسې مړه داسې و

15/12/2016

Scanned by CamScanner

په قرار کېنه لا توده ده لوبه
لنډون يې نشته لا اوږده ده لوبه

را ټولول به يې وختونه غواړي
ګردې نړۍ کښې اوس خوره ده لوبه

چې نه په بل او نه په ځان کړي صرفه
دلته بس هغو خلکو زده ده لوبه

تاوان يې موږ ګټه يې نور خلک خوري
په موږ شوې عجيبه ده لوبه

موږ مړ خولي هيڅ کولی نه شو
تاسو نه هره يوه پوره ده لوبه

ستره سینه حوصله لویه غواړي
وړه یې مه ګڼه درنه ده لوبه

موږه سرونه پکښې بایلل د قام
تاسو ته ټوله اواره ده لوبه

زور یې لا شته عمر دراز مروته
که په ظاهر صورت سره ده لوبه

19/12/2016

Scanned by CamScanner

منم چې تا به وي ډېر خلک په خندي خوړلي
ما اعتبار کښې ډېر تسونه په زړګي خوړلي

دا کوم سړی چې ته لمانځې د پېغمبر په نامه
دغه سړي زمونږ د چم دي ډېر سړي خوړلي

هغه سړی کیسه د خدای د پاره نه شي کوی
کوم یو سړي چې وي تمام عمر پردي خوړلي

د قسمت لوبه ده سفر په یو طرف نه کوي
څوك پسرلي وخوړل چا دي پسرلي خوړلي

زهٔ دغه خلک له دې ډېرو خلکو ښه پېژنم
دا ساده ګان دي له ازله شاباسي خوړلي

څوك لكه ته ډېرې مستۍ نه پښې په ځمكه نه ږدي
څوك لكه زۀ خپلې پښتو او بې وسي خوړلي

مونږه د حال او مستقبل په كيسې سوچ نه كوو
مونږه بې علمه پښتانۀ يو تل ماضي خوړلي

مونږه په چا نه ږده وو لاس عمر دراز مروته!
مونږ يو د خپل ښه سړيتوب خپلې راستي خوړلي

1/1/2017

اوس ايله پوی شوم چې خبرې يې خبرو کښې وې
په موړ خوړلې مړغونې يې شکرو کښې وې

موړ په قسمت کښې ميوې دارې ونې شنډې شولې
چا په قسمت پخې ميوې سپېرو کيکرو کښې وې

مونږه د خپلې بېوسۍ په مانا دومره پوی شوو
مونږه درنې، درنې خبرې په ژورو کښې وې

ځان به دې څنګه د مَېنو له نظر پټاوه!!
ستا د ښاېست تبصرې ټولې په سندرو کښې وې

تم که مو نه شوه په يو ځای عمر دراز مروته
د بېلتانه بلې لمبې مو په وزرو کښې وې

28/12/2016

ښکلی ایکي یو دی په ټول چم کښې خو چې عام نه وای
هر ښکلی دې عام وی خو واحد چې مې ګلفان نه وای

لا یې زما زړهٔ له زړهٔ په زړهٔ کښې ګرځولی وای
لا مې چې ورکړی اخپل زړهٔ د خدای په نام نه وای

ما نه به ضرور وه مروره ښاپیرۍ د شعر
ځکه همېشه په هر دیار باندې ناکام نه وای

لا مې د اسلام غوندې په زړهٔ او په عمل کښې وای
لا مې د هغه سره ببخي د خدای سلام نه وای

بیا خو به بادشاه عمر دراز مروت زهٔ وم پرې
ما غوندې باریك که ورته هر یو سړي پام نه وای

12/1/2017

Scanned by CamScanner

هلته چې په درد باندې د يو ترېل دردمن و خلک
دا خو يقيناً چې همدردي په غريبۍ کښې وه

ياد دې راته اوس عمر دراز مروته هغه وخت
خداى شته چې بې بوجه بادشاهي په غريبۍ کښې وه

17/1/2017

## قطعه

که دروغ نه وي نو رښتيا هم ورته نشم ويلې
په وچو شونډو دې څه داسې رنګ وعده کړې ده

د ستا ياري هم د پښتون تاريخ ده سن نه لري
چاته به څه وايې چې ما هم يارانه کړې ده

15/1/2017

سر مې ورټيټ کړ او معافي مې ورنه وغوښتله
د خپلو بدو پښېماني مې ورنه وغوښتله

د خپلو ټولو خطاګانو اعتراف مې وکه
بيا د کرم مهرباني مې ورنه وغوښتله

پسته کيسه مې ورته وکړه سخته نه وه پکار
د ننني دور ياري مې ورنه وغوښتله

هغه شل مخي رقيبان مې ورته ټول آزاد کړل
خو يارانه د غريبۍ مې ورنه وغوښتله

زړهٔ در کوم خو زړګی راکه په بدل د زړګي
بس صرف دومره قرباني مې ورنه وغوښتله

Scanned by CamScanner

جانان چې سوال د خپل تېر شوي پسرلي وکه نن
لـه مجبورۍ خپلـه ځـواني مـې ورنـه وغوښـتله

دې بـاوجود کـه وي نـاراض عمـر دراز مروتـه
وعـده د دهٔ، زړهٔ پـه مرضـي مـې ورنـه وغوښـتله

1/2/2017

## قطعه

زمـا او سـتا د ځـوانۍ ورځـې داسې خـوږ کـې لاړې
لالیـه تـه اسـلام آبـاد زهٔ زنـده بـاد وخـوړم

د خپلـو مـنځ کښـې د یـو بـل پـه ثمر هـېڅ نـه راغلـو
تـه خپـل ښـابسـت پـه تـوپـې تبـر کـړې او زهٔ داد وخوړم

20/12/2017

Scanned by CamScanner

صرف دا نه چې محبت سره دې ظلم وکه
د خدای تمام انسانیت سره دې ظلم وکه

حسن خرڅیږي لا پخوانه دا څه نوې نه ده
خو د لعلونو له قیمت سره دې ظلم وکه

د خپل ښایست د لېونو قدر دې ونه ساته
په حقیقت د حقیقت سره دې ظلم وکه

د یار ښایست سره تشبیه ګل سره نه وه پکار
دا په رښتیا د نزاکت سره دې ظلم وکه

پردې دې څوك نه کړل راخپل عمر دراز مروته
هسې عبث خپل شرافت سره دې ظلم وکه

15/2/2017

# عمر دراز مروت

## چاپ کړي کتابونه

۱: تنکیالي پښتانهٔ (تذکره) : مولف عمردراز مروت

۲ : غم او زغم : د مسرور شاعري

۳ : نیمګړي حسرتونه : د شبر غلام شاعري

۴ : خبرې پهٔ قلم(اول ټوک تذکره): مولف عمردراز مروت

۵ : خبرې پهٔ قلم (دوئم ټوک تذکره):مولف عمردرازمروت

۶ : تصویر د مېنامونو :د سلیم قرار شاعري

۷ : ګل بې خاره نهٔ وي :د عمر دراز مروت شاعري

۸ : مسکا پهٔ شونډو غزل : شعرې غور چاڼ

۹ : تنکي پاڼې (تذکره) : مولف عمردراز مروت

۱۰ : پینګه : دوئم ایډیشن،دساغرګنډه پورنثرکتاب

۱۱ : دَ سترګو ازغي :دَ ساغر ګنډه پور شاعري

۱۲ : غزل : دوئم ایډیشن،رحمت الله دردشاعري

۱۲ : دَ کاڼي کربښه : د عمر دراز مروت شاعري

۱۴ : خوارهٔ وارهٔ لعلونه(تذکره) :مولف عمردراز مروت

۱۵ : دغاټولو کرونده(تذکره): مولف عمردراز مروت

۱۶ : غزل : دریم ایډیشن،رحمت الله دردشاعري

۱۷ : لیدلي کتلي : د نیاز لوني نثرکتاب

۱۸ :مرګه دېرددېرارمانونه...: دَدمسازمروت پهٔ یادکښې شاعري

۱۹ : درد : دَ رحمت الله درد شاعري

۲۰ : که تنهاعمرګران سرکی کماله:دَ سرکی کمال شاعري

Scanned by CamScanner

۲۱ : مرګه ډېر ډېر آرمانونه...: دوم ایډیشن دمسازمروت په یاد کښې

۲۲ : خولې : د ګل زمان ملنګ شاعري

۲۳ : انتخاب : شعرې غورچان

۲۴ : مجمر : دَ عمردراز مروت شاعري

۲۵ : تصویر دمابشامونو : دوئم ایډیشن، سلیم قرار شاعري

۲۶ : معصومه مینه : دنیظم خان مروت شاعري

۲۷ : درد : دوئم ایډیشن،رحمت الله درد شاعري

۲۸ : اسرارِجنون : دیوانه مروت شاعري

۲۹ : غزل : څلورم ایډیشن،رحمت الله درد شاعري

۳۰ : لیدلي کتلي : دوئم ټوک، دنیازلوني نثر کتاب

۳۱ : احسان : د احسان مرحوم شاعري

۳۲ : که تنهاعمروو ګران : دوئم ایډیشن، سرکی کمال شاعري

۳۳ : خبرې په قلم(تذکره) : دوئم ایډیشن، مولف عمردراز مروت

۳۴ : مرګه ډېر ډېر آرمانونه... : دریم ایډیشن،دمسازمروت په یادکښې

۳۵ : که تنهاعمروو ګران : دریم ایډیشن،سرکی کمال شاعري

۳۶ : ما تا هغه ورځې یادیږي :د اسلم خان تسنیم شاعري

۳۷:مرګه ډېر ډېر آرمانونه... : څلورم ایډیشن،دمسازمروت په یادکښې

۳۸ : ن ته ر ن : د رحمت الله درد شاعري

۳۹ : رموز احسان : دوئم ایډیشن،محمدحسن احسان شاعري

۴۰ : که تنهاعمروو ګران : څلورم ایډیشن، سرکی کمال شاعري

۴۱: مرګه ډېر ډېر آرمانونه... : پنځم ایډیشن،دمسازمروت په یادکښې

Scanned by CamScanner

۴۲ : ګل بې خاره نهٔ وي : دولم ایډیشن،عمردرازمروت شاعري

۴۳: د کاني ګربنه : دولم ایډیشن، عمردراز مروت شاعري

۴۴ : خورجین : دولم ایډیشن، تبسم مروت شاعري

۴۵ : منتخب درد : دولم ایډیشن، رحمت الله درد شاعري

۴۶ : که تنهاعمروو ګران : پنځم ایډیشن، سرکی کمال شاعري

۴۷ : خیال خواري غواړي : د عمر دراز مروت شاعري

۴۸ : شیخ بدین رساله : مدیر اعلی، عمر دراز مروت

۴۹ : دادب چینه : د قلندر بیقرار شاعري

۵۰ : مرګه ډیر ډیر ارمانونه.. : شپږم ایډیشن، دمسازمروت پهٔ یاد کښې

۵۱ : غزل : پنځم ایډیشن، رحمت الله درد شاعري

۵۲ : وفا : د رحمت الله درد شاعري

۵۳: مجمر : دولم ایډیشن، عمردراز مروت شاعري

۵۴ : داحساس زړهٔ هینداره: د قیوم مستانه شاعري

۵۵ : درد : دریم ایډیشن، رحمت الله درد شاعري

۵۶ : که تنهاعمروو ګران : شپږم ایډیشن، سرکی کمال شاعري

۵۷ : هوښیارانو څهٔ پرې ایښي نهٔ دي: د ظاهر شاه ظاهر پهٔ زیار

۵۸ : هغه سترګې چې ژغېږي : رحمت الله درد شاعري

۵۹ : وفا : دولم ایډیشن ،رحمت الله درد شاعري

۶۰ : "ن" نه تر "ن" : دولم ایډیشن، رحمت الله درد شاعري

۶۱ : نیمګړي هسرتونه : دولم ایډیشن، شیر غلام شاعري

۶۲ : ورانډېنو څهٔ پرې ایښي نهٔ دي: دولم ایډیشند ظاهر شاه ضاهر پهٔ زیار

۶۳ : غزل : شپږم ایډیشن، رحمت الله درد شاعري

۶۴ : ستادخالیست قیصو : دولم ایډیشن، قیوم مستانه شاري

Scanned by CamScanner

۶۵ : مرګه ډېر ډېر آرمانونه.. : اووم ايډيشن، دمسازمروت پهٔ ياد کښې

۶۶ : وبال سړے : د رحمت الله درد شاعري

۶۷ : لالازار(د شعرونو انتخاب) : مولف عمردراز مروت

۶۸ : څهٔ به دې يو ځلي جانان جوړوم : دوئم ايډيشن، عارف سلطان عارف

۶۹ : پهٔ لېونوکښې څکه شمارشوم : د معشوم شاه لېونے شاعري

۷۰ : که تنها عمر وو ګران : اووم ايډيشن، د کمال شاعري

۷۱ : جانانه بخت له دې حېران يم : دَ عمردرازمروت شاعري

۷۲: ګيله : عصمت الله سپرلي خېل شاعري

۷۳ : زړونه مې دربانديې(شعرې غورچان):مولف عمردراز مروت

۷٤: جانان مې لېونے دے : داود خان داود

۷۵ : د درد کليات : رحمت الله دارد

۷۶ : د چاربېتو تذکره : مولف عمردراز مروت

۷۷ : د زړهٔ سترګې : د قطب خان شاعري

۷۸ : جانانه تهٔ خو داسې نهٔ وې : د عرفان سرحدي شاعري

۷۹:پټې ابله احساس : د هيبت خان هيبت شاعري

۸۰ : نيالستونه د سپرلي : د عارف سلطان شاعري

۸۱:مزَغ (تذکره) : مولف عمردراز مروت

۸۲ : کليات : د طاهر کلاچي شاعري

۸۳ : زه مسافرلالي له خط ليکمه: د محمد عالم ذيشانْ شاعري

Scanned by CamScanner

۸۴ : که تنها عمر وګران : الم ایډیشن:د سرکی کمال شاعري

۸۵ : مرګه ډیرډیرارمانونه دي لوګي کړل: الم ادیشن:دمسازمروت په یاد کښې

۸۶ :زیری مې درباندې : دویم ایډیشن : مولف عمردراز مروت

۸۷: که تنها عمر وګران : نهم ایډیشن:د سرکی کمال شاعري

۸۸: دکدوالی ورځې مې نهٔ هیریږي : د محمد سلیم ذاهب شاعري

۸۹: بایبوون : مولف: عمردراز مروت

۹۰: خورجین : د تبسم مروت شاعري

۹۱ : خیال خواري غواړي: د عمردراز مروت شاعري

۹۲: خوب په میژلون : د دلسوز مروت شاعري

۹۳:که تنهاعمروو‌ګران(لسم چاپ): د سرکی کمال شاعري

۹۴:وفا : د رحمت الله درد شاعري

۹۵:هغه سترګې چې ژغیږي(دوئم چاپ) :د رحمت الله درد شاعري

۹۶: ګیله : د عصمت الله سپرلي خېل شاعري

۹۷: چاربیتي شاعران(دوئم ټوک) : مولف: عمردراز مروت

۹۸: ګلونو کښې اور : د نور محمد اظهار شاعري

۹۹: سړے پهٔ رنګ نهٔ سړے کیږي: د عمردراز مروت شاعري

Scanned by CamScanner

# د مصنف د موندولو درك:

زاهد هوټل- ککي روډ- سرای نورنګ

## د کتاب د موندلو درکونه:

* یونیورستي بُك ایجنسي- خیبربازار- پیښور
* عبدالله بُك ایجنسي وانه روډ- وزیرآباد-ټانك
*مکتبة الحمزه- بالمقابل تحصیل- نورنګ
* کنګ بُك ډیپو- کچري روډ- لکي مروت
* روشان دوکاندار نمبر۲ سکول- لکي مروت
* احسان بُك - هسپتال روډ- نورنګ
* احسان بُك٠ میرلي وال- ټانچي بازار- بنو
* مکتبة ختم نبوت - مجیدي مسجد- نورنګ
* تاج کتابتون- وزیرستان روډ- ډیره
* صمدیه کتب خانه- غله منډي- بنو
* بذریعه ډاك- تر لاسه کولو شمېره- 3005313–0311
* دانش کتابپلورځی، کابل - 0700639383

Scanned by CamScanner

Scanned by CamScanner



Sarry Pa Rang Na Sarry Kegi

by

Umar Daraz Marwat

## د مصنف چاپ شوي آثار

۱ : ګل بې خاره نه وي
۲ : د کاڼي کرښه
۳ : مجمر
٤ : خیال خواري غواړي
٥ : جانانه بخت ته دې حیران یم
٦ : سړے په رنګ نه سړے کېږي (همدا کتاب)

دانش خپرندویه ټولنه

سالنګ واټ، پښتوني انحصارات، د ملي سینما څنګ ته
دانش کتابپلورنځی/ ۰۷۷۱۱۴۴۳۱۷




Scanned by CamScanner